پوهنمل حاجي محمد نوزادي، دنمارک

# یوه ۲۲ کلن محصل ۳۵ ژبی زده کړیدی



دژبو نابغه Heine Sebastian وایی :
پښتو د خپل زیږوالي سره سره یوه خوږه ژبه ده

شپیګل انلاین Spiegel online جرمن ژبی خپروني ترلوړسرلیک لاندی د مارتین کوخ په قلم یومطلب خپور کړی چی دهیواد پیاوړی لیکوال محترم دیپلوم انجینر خلیل الله معروفی هغه په پوره مینه اوځانګړی مهارت سره په دری ژبه ژباړلی اوپه افغان - جرمن انلایناوځینو نورو انترنیتی سا یټونو کښی خپور شویدی . د نوموړي زیارته په درناوي سره دادی دده لخوا دژباړل شوی دری متن پښتو ژباړه دخپلو لیکنو مینه والو ته وړاندی کوم چی هیله ده ورته په زړه پوری به وی :

داسی یود ټیټ سن ځوان پوه چی په دری څلورو ژبو باندی واک ولری یو استثنایی اوځانګړی تن ګڼل کیږی . د سبستیان هاینه Sebastian Heine پنامه د بن په ښارکی یو محصل هر کال دری څلور ژبي زده کړې او اوس کولای شی په ۳۵ ژبو باندی خبري اتري وکړی . پدی ژبو کی د ( ارامی ژبی) څخه نیولې تر ازبکی پوری ډیری ژبی شاملې دی، خوپه دی ټولوکښي د پښتوژبی سره دی د زړه له کومی مینه لری .
دی د(بن پوهنتون) په کتابتون کښی پرخپل میز باندی دکتابونو غونډۍ ته اشاره کوی او وایی : ٍ نه ، دا پرځای خبره نده ، زه نابغه نه یم . دا ټوله یوازی زما د زیار او زحمت نتیجه ده. زه هر ورځ نوی لغاتونه زده کوم او ګرامر تکراروم ٍ . البته دا د بور رنګه پیچ پیچ ویښتیانولرونکي او دپوهنځۍ ۲۲ کلن محصل دځان ارزونه ده چی په ډیرې خاکسارۍ سره ئی کړیده . ولی هیڅوک دیوه خارق العاده استعداد نه پرته نشی کولای دومره زیاتې ژبی زده کړی . هغه ژبی چی ده زده کړیدی، ډیره برخه ئی دختیځ او مځنی ختیځ د اولسونو ژبی دی ، دبیلګی په توګه :
قدیمي فُرس، اوستایی، پهلوی، باختری، سغدی، ساکی، پښتو، پراچی، ارموری، واخی، یغنوبی، سنګلیچی، ایشکامی، اویستی ( آسی)، یدغا- منجی، اردو، هندي، فارسی، پنجابی، سندي، کورمانچی، کردی، بلوچی، سانسیکریټ، پالی، ګندهاری، لاتین، یونانی، قدیمی ایرلنډی، کیمری میانه، ګوتیک، ازبکی، ارامی، عربی، فرانسوی او انګلیسی .

ده نژدی اوه کاله وړاندی کله چی د ( هسن Hessin ) ایالت د ( فرانکن برګ Frankenberg) په ښار کی د ( ایدرتال Edertalschule ښوونځۍ ) زده کوونکې وو، دژبو په زده کړه ئي پیل وکړ. هغه لا ۱۵ کلن وو چی د ( هومر)( *) داصلی متن په لوستلو سره و دی پایلې ته ورسید چی یونانی او سانسیکریټ ژبی یو له بلې سره ډیری نژدی اړیکی لری. دغی موضوع دده دکنجکاوې حس راوپاراوه تر څو دسانسیکریټ ژبه زده کړی. دتاریخ پوه ځوی سبستان ددی پر ځای چی دنورو ځوانانو پشان په نڅا ځایونو کی عیاشی وکړی، دژبو زده کړی ته ئی لیڅی رانغښتې او یو په بل پسی ئی هرکال دری څلور ژبی زده کولې. .
سبستیان دښوونځۍ په پای کی دبکلوریا دلومړۍ درجی شهادتنامی تر اخیستلو وروسته د بن پوهنتون ته ولاړ او هلته ئی د

"هندوجرمانیستیک" ( دهند او جرمنی ژبو ادبیات ) په دیپارتمنت کی دٍ هندولوژیٍ ( هند پیژندني ) اوسلتولوژی (* *) ( سلت پیژندني ) په څانګو کښی چی له پخوازمانو څخه ښکلي او په زړه پوری څانګی ګڼلي شویدی، زده کړو ته ملا وتړل . همدا اوس ئی ده د خپل دیپلوم د رسالي لیکلو موضوع د ( پښتو فعلونه ) ټاکلی ترڅو وئی څیړی . دی پرپښتو ژبه باندي دزړه له کومی مین دی، عشق ورسره لری اوپښتو ژبه دانسانی ژوند د مختلفو اړخونو یو موزائیک او سره نښلونکي وسیله ګڼی او داسی ئی ستایی : ( پښتو ډیره زیږه او خورا خوږه ژبه ده. پښتو که له یوی خوا کولای شی د نازکی ښکلا یو بیشانی لطافت تمثیل کړی، دبل پلوه بیا دنارینه توب زیږوالي ورسره مل دی . پښتو دژوند یو تجسم او تجلا ده، فریادونه کاږی، ژاړی، خاندی اوخوښی کوی، ساندی وایی او مرګ تمثیلوی.)

**پښتو دژوندون یو احساس دی.**

کله چی سبستیان هاینه دخپلي محبوبې پښتو په هکله دمینې خبری کوی او شعرونه دکلمه کوی ، په سترګو کی ئی ځلا راپورته اوپه یوی بلي نړی کښی غرق شی . شاید داډول مینه او عاشقی دده د پوهنتونی ملګرو دپاره بیګانه او نابلده کار وی ، خو دی پخپله پدغه مینه کی دومره ډوب او ژورتللي چی دملنګ پشان اوس تیر ترنام وننګ دی . ده ته نور د هغو ملګرو کړه وړه څه ارزښت نلری او دوی چی دده په اړه څه فکر کوی یا څه وایی ، ورته بیخی بی توپیره ده.

دژبو دغه پوه اوماهر چی تل د درنو جامو سره ځرګندیږی ، د محصلي د راز راز خیالونو څخه ډک ژوند پرمخ بیایی. دی نژدی هره ورځ د هغو جرمنی میشتو افغانانو سره چی اشنایی ورسره پالي ، لیده کاته کوی . ددوی سره د نورو دوستانو ولیدلو ته ځی ، په میلمستیا وو او بانډارونو کښی ئی برخه اخلي ، دپاک خدای او دهغه دمخلوق جهان په هکله بحثونه ورسره کوی . لنډه داچی داتولی چاری دی په پښتو ژبه ترسره کوی، نه په خپلي مورني الماني ژبې.

دده په اند پښتو نه یوازی یوه ژبه ده بلکه دژوندون یو احساس دی : ٍ پښتو دپښتنو یو نا لیکلي فرمان د ی ، یعنی کله چی دوی وغواړی رښتیا ویونکي وی، نیک نوم ولری، میلمه پال اوسی او دخپل دښمن په هکله تیریدنه وکړی نو دوی دپښتو او پښتونوالي مسئله رامنځ ته کوی .هغه څوک چی غواړی ددوی سره په پښتو خبری وکړی، په حقیقت کښی د دوی سره ځان ګډوی. پکار ده ددوي په کړو وړو ځانونه پوه او پدی توګه دوی درک او ومنو . دبل چا په درک او منلو سره کیدلای شی چی هغه هم نورکسان درک او ومنې.

**افغانستان به ماته یوه رویا اوهیله وی .**

دافغانستان داوسني حالت په نظر کی نیولو اود ژبزده کړی په چارو کښي د سبستیان ونبوغ ته په پام اړولو سره ویلای شو چی دده پرمخ همدااوس د افغانستان ټولي دروازی پرانیستې دی. دشرکتونو څخه نیولې تر مرستندویه ټولنو او همدارنګه په نظامی چارو کښی ده ته ډیره اړتیا شته . دالمان اردولا پخوا بلنه ورکړیده ترڅودسیمی دژبو په باره کی دوی ته معلوماتی لکچرونه ولولې. ده هم دا بلنه منلې ده، ځکه ورته په زړه پوری ده چی خپل معلومات دنورو سره شیریک کړی.

دی دیوه ژبپوه په توګه په افغانستان کی دپرمختیایی مرستو او دبیا رغوني د اوسنې بهیرګټورتوب ته دشک په سترګو ګوری او په انتقادی ډول وایی :ٍ هلته اکثره پروژی په فارسی ژبه مخته ځی چی داهم یوه له دوو رسمی ژبو څخه ده . البته په فارسی ژبه دهیواد په شمالي سیمو کښی ډیری خلګ خبری کوی . خو داچی دهیواد دوولس ۱۲ میلیونه وګړی په جنوبی سیمو کی پښتانه او په پښتو ږغیږی، دوي دنوموړو مرستندویه پروګرامونو څخه ډیره لږه برخه ترلاسه کوی.

پر پښتو ژبه عاشق سبستیان هاینه خپله راتلونکې په درس ورکولو او څیړنو کی وینی. لدی امله نه غواړی په سیاسی او اقتصادی مقیدو چارو کښی ځان راګیر کړی، ځکه دی ډاریږی چی : " که انسان یوځل په دغو چارو کښی وردننه شو، بیانو دبیرته وتلو لاری پری بندیږیٍ" .

که چیری کارونه دده پر زړه برابر مخ ته لاړ شی، ده پتیئلې ده چي دروان کال تر پایه به دخپلي دوکتورا دګری ترلاسه کولو په موخه د ( الماان دخلګوتحصیلي موسیسی ) دیوه بورس نه په ګټه اخیستلو سره دلندن د ( خیځ او افریکا د ښیرنیزو چارو ښوونځی (School of Oriental and African Studies کښی چی نړیوال شهرت لری، د لوست او څیړنی کارونه پیل کړی.

د دوکتورا درجی د لاسته راوړلو وروسته دی غواړی دیوه پوه او ماهر په توګه دنړۍ هغو سیموته ولاړشی، چی دهغوی ژبې ئی زده کړی او لا ئی تر اوسه پوري هیڅکله هم لیدلي نه دی . دی په ټینګار سره یادوي : "ماته به دیوه ژبپوه په توګه افغانستان یوه هیله او رویا وی." ددی ځرګندوني په ویلو سره ئی په سترګو کی بیا ځلا وبریښي او وایی : دژبو لهجی باید وڅیړلې شی ، پرهغو ژبو باندی باید کار وشی چی لا تر اسه ئی ګرامر ند ی لیکل شوی . حکایتونه، کیسې، افسانې، روایتون اوشعرونه دا ټول هغه شیان دی چی زه مینه ورسره لرم ". له همدی خاطره دی

پدی هیله ورځی شمیری چی کله به په افغانستان کی سیاسی اوضاع ارامتیا او ټیکاو ومومی ترڅو دی وکړای شی هغه هیوادته ولاړ شی او دبیلګی په توګه په کابل پوهنتون کښی درس ولولي، درس ورکړی اودخپلې خوښی سره سم څیړنی ترسره کړی.

پاي

دژباړونکی یادونه :
دلوړی لیکني متن داصلي متن دهغي لیکني څخه پښتو ته واړول شو، کوم چی محترم دیپلوم انجنر خلیل الله معروفی په دری ژبه ژباړلي او د افغان - جرمن انلاین پورتال برسیره په یولړ افغاني سایتونو کښی خپور شویدی. دلیکني اصلي متن کیدلاي شی په دغه سایت ( www.spiegel.de ) کي ترلاسه شی .
*د معروفی صاحب نه په مننې او پیرزوینې .*
(*) - هومر په لرغونی یونان کی یو ډیر پیژندل شوی شاعر دی
(* *) - سلت دیوه قوم نوم دی چی په برتانیا کی میشت دی .